د تي تي پي داخلي اختلافات او د جماعت الاحرار دروغجنه بیانیه

د جماعت الاحرار بدنام ترهګر سربکوف مهمند په خپل تازه بیان کې د تحریک طالبان پاکستان له مرکزي مشرتابه سره د اختلافاتو، په افغانستان کې د ترهګرو موجودیت او پر افغان ترهګرو د زیاتېدونکي انحصار د ردولو ناکامه هڅه کړې ده، په داسې حال کې چې اصلي حقایق په لاندې ډول دي:

- د تي تي پي د قیادت په ځایې د سربکف مهمند لخوا خپور شوی بیان، پخپله د دې اختلافاتو تصدیق کوي۔
- د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر په پاکستان کې د موجودیت په اړه اندېښمن دی چې ترهګر د افغان موقت حکومت د احتمالي فشار له وېرې ناسمو څرګندونو ته اړ کېږي۔
- که په افغانستان کې تي تي پي وجود نه لري نو عمر خالد خراساني، خالد بلتي، رفیع الله، قاري سیف الله محسود، داود عرف لنګړه او شل نور ترهګر څنګه په افغانستان کې ووژل شوي۔
- دوي د خپلې بیانیې نفي په خپله کوي، ترهګر سربکف مهمند هم د عمر خالد خراساني د وژنې ذمه وار تي تي پي ګرځولي وا، چې دا د دې اختلافاتو ښکاره اعتراف دی۔
- په تیرو دریو میاشتو کې د امنیتي ځواکونو لخوا تر پنځوسو زیات افغان ترهګر وژل شوي چې وروسته افغان موقت حکومت په تحریک طالبان پاکستان فشارونه زیات کړي دي۔

د پرله پسې ناکامیو او داخلي اختلافاتو له امله د تي تي پي بزدله ترهګر په ژوره مایوسۍ اخته دي، په داسې حال کې چې د ترهګرو مشرتابه د خپل لویدلي شهرت د ژغورلو لپاره دروغو بیانونو سهاره اخلي خو خلک د خوارج له اصلیت څخه ښه خبر دي او د هغوی دروغجن روایتونه ردوي۔